

# د ابتدايي كلونو زده كړې او د ماشومانو د پاملرنې لپاره ترلاسه كوونكې د مرستې حقونه

Warwickshire County Council

## منځپانګې:


په هره اونۍ کې د ماشومانو د پاملرنې 30 ساعته وړيا خدمت د وړتيا لرونکي کارکوونکو کورنيو لپاره 1

د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتيا لرونکي کورنيو لپاره د ماشومانو د پاملرنې د لګښت د تمويل مرسته 4

د ټولو خلکو لپاره پرانستي د ماشومانو د پاملرنې 15 ساعته عمومي وړيا خدمت 6

د اضافي مرستې حقونه 8

پرله پسې پوښتل شوې پوښتنې 10

اړيکي او نور معلومات 12

د ماشوم پاملرنه کوونکی په توګه کار ترسره کول 13




Warwickshire County Council

## په هره اونۍ کې د ماشومانو د پاملرنې 30 ساعته وړیا خدمت د وړتیا لرونکي کارکوونکو کورنیو لپاره

له 9 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې عمر لرونکي ماشومانو لپاره

- په اونۍ کې تر 30 ساعتونو پورې
- په کال کې 38 اوونۍ

کارکوونکي والدین له سپتمبر میاشت 2025 کال څخه په هره اونۍ کې د ماشومانو د پاملرنې 30 ساعته وړیا خدمت لپاره وړتیا لرې شي، که تاسو یاست:

- دوو والدین لرونکي کورنۍ، چې دواړه کار کوي او هر یو د ملي لخوا لږ تر لږه ترلاسه کیدونکي ګټه یا د ژوند د اساسي اړتیاوو پوره کولو معاش له مخې د اونۍ 16 ساعتونو په اندازه عاید ترلاسه کوي
- هر یو ترلاسه کیدونکي ګټه چې په کال کې له 100,000£ پاونډو څخه کم وي

یا

- یوازې والدین، چې کار کوي او د ملي لخوا لږ تر لږه ترلاسه کیدونکي ګټه یا د ژوند د اساسي اړتیاوو پوره کولو معاش له مخې د اونۍ 16 ساعتونو په اندازه عاید ترلاسه کوي
- ترلاسه کیدونکي ګټه یې په کال کې له 100,000£ پاونډو څخه کم وي

د کډوالۍ حالت:

د تمویل کیدونکي ماشومانو پاملرنې د وړتیا لرلو لپاره، تاسو باید د ملي بیمې شمېره ولرئ او لږ تر لږه د لاندې شرایطو څخه یو ولرئ:

- د برتانیا یا آیرلینډ تابعیت
- د دایمي ژوند کولو یا د موقتي ژوند کولو اجازې حالت، یا مو غوښتنه سپارلې وي او د پریکړې په تمه یاست
- د عامه مالي مرستو د ترلاسه کولو اجازه، لکه څنګه چې ستاسو د انګلستان د استوګنې په کارت کې ښودل شوي

که تاسو یو ملګری لرئ، هغوی باید هم د ملي بیمې شمېره ولري.

د مرستې حقونه:

د کارکوونکي والدینو لپاره تمویل کیدونکي د مرستې حقونه د کال لږ تر لږه 38 اونیو په جریان کې د کال تر ټولو لوړ 1140 ساعتونو پورې دي، چې په اونۍ کې تر 30 ساعتونو پورې ورکول کېږي. دا د مرستې حقونه د 38 اونیو څخه زیات وخت پورې غځول کیدی شي په اونۍ کې لږ ساعتونه کارولو له لارې د کال په اوږدو کې په زیات شمېر اونیو کې وویشل کیدی شي. مهرباني وکړئ د خپل ماشومانو د ابتدایي کلونو د خدمت چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ چې څنګه دوی تمویل کیدونکي د مرستې حقونه وړاندې کوئ.

## زما ماشوم به کله وړتیا درلودې؟

ماشومان په عمومي توګه د تمویل کیدونکي د مرستې حقونو د ګډون فرصت د ښوونځي د وخت له پیل څخه وروسته ترلاسه کوي کله چې هغوی 9 میاشتې عمر ولري.

| ماشومان چې رسیږي<br>د 9 میاشتو عمر د لاندې نیټو ترمنځ: | تمویل کیدونکي د ګډون فرصت پیل کیږي له: |
|---|---|
| د جنورۍ میاشت 1 نیټه او د مارچ میاشت 31 مه نیټه | د اوړي د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د اپریل میاشت د 1 نیټې نه وروسته یا په هماغه ورځ) د 9 میاشتو عمر د پوره کېدو نیټې وروسته |
| د اپریل میاشت 1 نیټه او د اګست میاشت 31 مه نیټه | د منې موسم د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د سپتمبر میاشت د 1 نیټې نه وروسته یا په هماغه ورځ) د 9 میاشتو عمر د پوره کېدو نیټې وروسته |
| د سپتمبر میاشت 1 نیټه او د دسمبر میاشت 31 مه نیټه | د پسرلی د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د جنوري میاشت د 1 نیټې نه وروسته یا په هماغه ورځ) د 9 میاشتو عمر د پوره کېدو نیټې وروسته |

د HMRC لخوا صادر شوی فعال وړتیا لرونکي کوډ به اړتیا لري.



## څنګه به غوښتنه وسپارئ:

کارکوونکي والدین باید د HMRC له لارې آنلاین د خپل وړتیا لرونکي کوډ لپاره غوښتنه وسپارئ په www.beststartinlife.gov.uk ویب پاڼه کې

یا د QR کوډ په کارولو سره:


- **تاسو باید خپل د ښوونځي د کال مودې لپاره غوښتنه وسپارئ مخکې له دې چې تاسو د ګډون فرصت پیل کول غواړئ**
- که تاسو بریالي شئ، HMRC به تاسو ته وړتیا لرونکي کوډ ستاسو د خوندي حساب له لارې صادر کوي. کوم چې تاسو باید خپل د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي ته وړاندې کړئ
- ستاسو د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي به ګوري چې ستاسو کوډ باوري دی. تاسو بیا د راتلونکي ښوونځي د کال مودې لپاره خپل د ګډون فرصت خوندي کولی شئ. د وړتیا لرونکي کوډ باید باوري د پیل نیټه په لاندې ټاکل شوو نیټو کې یا مخکې ولري:
  - د منې موسم د ښوونځي د کال موده: باوري د پیل نیټه باید 31 مه نیټه د اګست میاشت یا مخکې وي
  - د پسرلی د ښوونځي د کال موده: باوري د پیل نیټه باید 31 مه نیټه د دسمبر میاشت یا مخکې وي
  - د اوړي د ښوونځي د کال موده: باوري د پیل نیټه باید 31 مه نیټه د مارچ میاشت یا مخکې وي
- تاسو باید هر درې میاشتې وروسته د خپل خوندي حساب له لارې خپله وړتیا بیا تایید کوئ. د HMRC لخوا به تاسو ته د پای نیټې څخه 4 اونۍ مخکې یادګېرنه درکړل کیږي

## زه څنګه د کارکوونکي والدینو د مرستې حقونو ادعا غوښتنه کولې شم؟

د ابتدايي کلونو د مرستې حقونو د لګښت تمويل په مستقیم ډول هغه د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي ته ورکول کېږي کوم کې چې ستاسو ماشوم ګډون کوي. هغوی به ستاسو له اړخه د لګښت تمويل پیسې ترلاسه کوي کله چې تاسو د والدینو/ساتونکو/سرپرست د اعلامیې فورمه (PDF) له هغوی لخوا ډکه کړئ.


## د مرستې حقونو په ګډه کارول:

د دوی د ښوونځي د کال مودې د درېیمې کلیزې څخه وروسته، ټول ماشومان د ټولو خلکو لپاره پرانستې 15 ساعتونو د مرستې حقونو ته د لاسرسی وړتیا لرلې شي (پاڼه 6 وګورئ). که تاسو هم یو باورې د کارکوونکي والدینو وړتیا لرونکې کوډ لرئ، ستاسو ماشوم به د ټولو خلکو لپاره پرانستې د مرستې حقونو له مخې 15 ساعته او د کارکوونکي والدینو د مرستې حقونو له مخې 15 نور ساعته ترلاسه کولو وړتیا درلودې، چې ټولیز د مرستې حقونو تر ټولو زیات حد پورې 30 ساعتونو ته ورسېږي.





## د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د ماشومانو د پاملرنې د لګښت د تمویل مرسته



د 2 کلونو عمر لرونکي ماشومانو لپاره

- په اوونۍ کې تر 15 ساعتونو پورې
- په کال کې 38 اوونۍ

تاسو ممکنه د خپل دوه کلن ماشوم لپاره د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د ماشومانو د لګښت د تمویل مرستې د ګډون فرصت ترلاسه کولو وړتیا درلودلې شي د ښوونځي د کال مودې څخه د دوی د دویمې کلیزې نه وروسته، که تاسو ترلاسه کوئ:

- د عاید ملاتړ
- د عاید پر بنسټ د دندې لټون کوونکو مرسته
- د عاید پورې تړلې د کار او ملاتړ مرسته
- د تقاعد کریډیټ تضمین شوې برخه
- د ټیټ عاید لرونکو خلکو د مرستې پیسې که ستاسو د کورنۍ کلنۍ عاید د مالیې وروسته له £15,400 څخه کم وي
  یا
- د ماشوم د ځایي اداري لخوا ساتنه ترسره کیږي
- ماشوم د ځانګړي سرپرستۍ یا د یوې نوې کورنۍ برخه کیدونکي ماشوم یا د ماشوم د ساتنې رسمي امر له لارې د پاملرنې څخه وتلی دی
- ماشوم د ځانګړو تعلیمي اړتیاوو د اوسنۍ بیان یا د تعلیم، روغتیا او پاملرنې پلان لري
- ماشوم د معلولیت لرونکي ژوند د ساتنې مرستې لپاره وړ لري
  یا

که ستاسو د کډوالۍ وضعیت وایي چې تاسو 'د عامه مالي منابعو څخه ګټه پورته کولو وړتیا نه لري' تاسو ممکنه د خپل دوه کلن ماشوم لپاره د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د ماشومانو د لګښت د تمویل مرستې د ګډون فرصت ترلاسه کولو وړتیا درلودلې شي د ښوونځي د کال مودې څخه د دوی د دویمې کلیزې نه وروسته، که تاسو:

- په انګلستان کې ژوند کوئ او ستاسو د کورنۍ کلنۍ عاید له ټاکلي حد څخه زیات نه وي:
  - o £26,500 د هغو کورنیو لپاره چې له لندن څخه بهر وي او یو ماشوم لري
  - o £30,600 د هغو کورنیو لپاره چې له لندن څخه بهر وي او دوه یا زیات ماشومان لري
- په سپما یا پانګونه کې له £16,000 څخه زیات نه لرئ

### د مرستې حقونه

د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د مرستې حقونه د کال لړ تر لړه 38 اونیو کې د کال تر ټولو لوړ 570 ساعتونو لپاره دی، چې د اوونۍ په اساس د 15 ساعتونو سره مساوي دي. دا د مرستې حقونه د 38 اونیو څخه زیات وخت پورې غځول کیدی شي په اونۍ کې لږ ساعتونه کارولو له لارې د کال په اوږدو کې په زیات شمېر اونیو کې وویشل کیدی شي. مهرباني وکړئ د خپل ماشومانو د ابتدایي کلونو د خدمت چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ چې څنګه دوی تمویل کیدونکي د مرستې حقونه وړاندې کوئ.

## زما ماشوم به کله وړتیا درلودي؟

ماشومان په عمومي ډول د خپل دویمي کلیزې نه وروسته د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د مرستي حقونو د ګډون فرصت ترلاسه کوي.

| هغه ماشومان چې زیږیدلي وي ترمنځ: | تمویل کیدونکي د ګډون فرصت پیل کیږي له: |
|---|---|
| د جنوری میاشت 1 نیټه او د مارچ میاشت 31 مه نیټه | د اوړي د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د اپریل میاشت د 1 نیټي نه وروسته یا په هماغه ورځ) د دوی د 2 مي کلیزې نه وروسته |
| د اپریل میاشت 1 نیټه او د اګست میاشت 31 مه نیټه | د مني موسم د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د سپتمبر میاشت د 1 نیټي نه وروسته یا په هماغه ورځ) د دوی د 2 مي کلیزې نه وروسته |
| د سپتمبر میاشت 1 نیټه او د دسمبر میاشت 31 مه نیټه | د پسرلی د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د جنوري میاشت د 1 نیټي نه وروسته یا په هماغه ورځ) د دوی د 2 مي کلیزې نه وروسته |

## څنګه به غوښتنه وسپارې:

تاسو آنلاین غوښتنه کولی شئ دا دي ویب پاڼي له لارې
**www.warwickshire.gov.uk/childcarecosts**
یا د QR کوډ په کارولو سره:

- ستاسو غوښتنه د حکومت د وړتیا د کتني سیستم (ECS) له لارې د وړتیا لپاره څیړل کیږي
- که تاسو وړ یاست، د تمویل تصدیق لیک به تاسو ته بریښنالیک یا پوسټ له لارې استول کیږي، چې پکې به ستاسو د EY واؤچر کوډ څرګنده شوی وي، تر څو تمویلي شوی ځای تایید شي
- تاسو ته به هم د خپل سیمي د ماشوم پاملرني خدماتو لست استول کیږي څوک چې د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د ماشومانو د لګښت د تمویل مرستي د ګډون فرصت وړاندي کوي
- تاسو به اړتیا لرئ چې خپل ټاکلي ځای ته د تمویل تصدیق لیک وښایئ او هغوی ته خپل د EY واؤچر کوډ ورکړئ
- که ستاسو وړتیا نه تایید کیږي، له تاسو څخه به د ملاتړ کوونکي اسناد وړاندي کولو لپاره غوښتلي کیږي

## زه څنګه د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د مرستي حقونو ادعا غوښتنه کولي شم؟:

د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکي کورنیو لپاره د لګښت تمویل په مستقیم ډول هغه د ماشومانو د ابتدایي کلونو د خدمت چمتو کونکي ته ورکول کیږي کوم کې چې ستاسو ماشوم ګډون کوي.
هغوی به ستاسو له اړخه د لګښت تمویل پیسي ترلاسه کوي کله چې تاسو د والدینو/ساتونکي/سرپرست د اعلامیې فورمه (PDF) له هغوی لخوا ډکه کړئ.

## د مرستي حقونو په ګډ کارول:

که تاسو او ستاسو ملګری (که تاسو یو لرئ) کار کوئ او یو باوري د کارکوونکو والدینو وړتیا لرونکي کوډ لرئ (پاڼه 1 وګورئ)، تاسو ممکنه د کارکوونکو والدینو د مرستي حقونو له مخي د اضافي 15 ساعتونو لپاره هم وړتیا لرلي شي، چې ټولیز د مرستي حقونو تر ټولو زیات حد پوري 30 ساعتونو ته ورسیږي.

## د ټولو خلکو لپاره پرانستې د ټولو ماشومانو د مرستې حقونه

د 3 څخه تر 4 کلونو عمر لرونکو ماشومانو لپاره

- په اونۍ کې تر 15 ساعتونو پورې
- په کال کې 38 اونۍ

ټول ماشومان د 15 ساعتونو د ټولو خلکو لپاره پرانستې د مرستې حقونه د خپل درېیمې کلیزې وروسته د ښوونځي د کال موده څخه تر هغه وخته پورې ترلاسه کولی شي چې د قانوني ښوونځي عمر ته ورسېږي یا د ښوونځي لومړنۍ ټولګۍ پیل کړي، د دواړو څخه کوم چې لومړی راځي.

### د مرستې حقونه:

د ټولو خلکو لپاره پرانستې تمویل کیدونکې د مرستې حقونه د کال لږ تر لږه 38 اونیو کې د کال تر ټولو لوړ 570 ساعتونو لپاره دی، چې د اونۍ په اساس د 15 ساعتونو سره مساوي دي. دا د مرستې حقونه د 38 اونیو څخه زیات وخت پورې غځول کیدی شي په اونۍ کې لږ ساعتونه کارولو له لارې د کال په اوږدو کې په زیات شمېر اونیو کې وویشل کیدی شي. مهرباني وکړئ د خپل ماشومانو د ابتدايي کلونو د خدمت چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ چې څنګه دوې تمویل کیدونکې د مرستې حقونه وړاندې کوئ.

### زما ماشوم به کله وړتیا درلودې؟

ټول ماشومان په خپل ډول د خپل درېیمې کلیزې وروسته د ښوونځي د کال مودې څخه د 15 ساعتونو د ټولو خلکو لپاره پرانستې د مرستې حقونه ترلاسه کولو وړتیا لري. د وړتیا ترلاسه کولو لپاره هېڅ د غوښتنلیک پروسه شتون نه لري.

| هغه ماشومان چې زیږیدلي وې ترمنځ: | وړیا د ګډون فرصت پیل کېږي له: |
|---|---|
| د جنورۍ مېاشت 1 نېټه او د مارچ مېاشت 31 مه نېټه | د اوړي د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د اپریل مېاشت د 1 نېټې نه وروسته یا په هماغه ورځ) د دوی د 3 مې کلیزې نه وروسته |
| د اپریل مېاشت 1 نېټه او د اګست مېاشت 31 مه نېټه | د مني موسم د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د سپتمبر مېاشت د 1 نېټې نه وروسته یا په هماغه ورځ) د دوی د 3مې کلیزې نه وروسته |
| د سپتمبر مېاشت 1 نېټه او د دسمبر مېاشت 31 مه نېټه | د پسرلي د ښوونځي د کال مودې له پیل څخه (د جنوري مېاشت د 1 نېټې نه وروسته یا په هماغه ورځ) د دوی د 3 مې کلیزې نه وروسته |

## څنګه به غوښتنه وسپارې:

د غوښتنلیک سپارل اړتیا نه لري او کوم کوډ اړین نه دي.

## زه څنګه د ټولو خلکو لپاره پرانستې د مرستې حقونو ادعا غوښتنه کولی شم؟

د ابتدایي کلونو د مرستي حقونو د لګښت تمویل په مستقیم ډول هغه د ابتدایي کلونو خدمت چمتو کوونکي ته ورکول کیږي کوم کې چې ستاسو ماشوم ګډون کوي. هغوی به ستاسو له اړخه د لګښت تمویل پیسې ترلاسه کوي کله چې تاسو د والدینو/ساتونکو/سرپرست د اعلامیې فورمه (PDF) له هغوی لخوا ډکه کړئ.

## د مرستې حقونو په ګډ کارول:

که تاسو او ستاسو ملګری (که تاسو یو لرئ) کار کوئ او یو باوري د کارکوونکو والدینو وړتیا لرونکي کوډ لرئ (پاڼه 1 وګورئ)، ستاسو ماشوم به د ټولو خلکو لپاره پرانستې د مرستې حقونو له مخې 15 ساعته او د کارکوونکي والدینو د مرستې حقونو له مخې 15 نور ساعته ترلاسه کولو وړتیا درلودي، چې ټولیز د مرستې حقونو تر ټولو زیات حد پورې 30 ساعتونو ته ورسیږي.



## د اضافي مرستې حقونه

### د ابتدايي کلونو د زده کوونکو ځانګړې مالي مرسته

د ابتدايي کلونو د زده کوونکو ځانګړې مالي مرسته (EYPP) یوه اضافي تمویل دې چې د ابتدايي کلونو د خدمت چمتو کونکي یې د ماشومانو لپاره ترلاسه کولی شي. چې والدین یې د وړتیا لرونکو ګټو یا کریډیټونو ترلاسه کوونکي وي، یا د نورو وړتیا لرونکو معیارونو څخه کوم یو پوره کوي. دا د ښوونځي د کال مودې په اساس د تمویل شوو ساعتونو پر بنسټ ورکول کېږي، هغه چمتو کوونکو ته چې ماشومان یې د مرستې حقونو څخه ګټه پورته کوي او د وړتیا معیارونه تر ټولو زیات حد 570 ساعتونه پورې پوره کوي. چېرته چې ماشومان د 30 ساعتونو لپاره وړتیا لري، EYPP ته به د اوونۍ لومړیو 15 ساعتونو لپاره پیسې ورکول کېږي، تر هغه چې ټول کال کې د 570 ساعتونو حد ته ورسېږي.

EYPP د هغو وړ ماشومانو لپاره د ابتدايي زده کړو کیفیت ملاتړ کوي چې د ابتدايي کالونو د مرستې حقونه ترلاسه کوي. د ابتدايي کلونو د خدمت چمتو کونکي دا دې اضافي تمویل د وړ ماشومانو د زده کړې د پایلو د ښه کولو لپاره د کارولو وړتیا درلودې او د دې تمویل څخه په بېلابېلو شیانو مصرف کولی شي، لکه فعالیتونه، د کارکوونکو روزنه، او منابع.

ماشوم به د ابتدايي کلونو د زده کوونکو ځانګړې مالي مرستې (EYPP) لپاره وړتیا درلودې که د دوی والدین د لاندې ګټو یا کریډیټونو څخه کوم یو ترلاسه کوي:

- د عاید ملاتړ
- د عاید پر بنسټ د دندې لټون کوونکو مرسته
- د عاید پورې تړلی د کار او ملاتړ مرسته
- مرسته د 1999 کال د کډوالۍ او پناه غوښتنې د قانون د VI برخې لاندې
- د دولتي تقاعد کریډیټ تضمین شوی برخه
- د ټیټ عاید لرونکو خلکو د مرستې پیسې چې د کورنۍ کلنۍ خالص عاید د £7,400 سره برابر یا له دې زیات نه وي، چې تر ټولو درې وروستیو د ټیټ عاید لرونکو خلکو د مرستې پیسې د ارزونې پر اساس محاسبه شوی.

### یا ماشوم لري:

- لږ تر لږه یوه ورځ د ځایي اداري تر پاملرنې لاندې پاتې شوی وي
- له پاملرنې څخه د یوې نوې کورنۍ برخه شوی وي
- د ځانګړي سرپرستۍ له لارې له پاملرنې څخه وتلی وي
- د ماشوم د ساتنې رسمي امر

## څنګه به د ادعا غوښتنه وکړي

د ابتدايي کلونو د زده کوونکو ځانګړي مالي مرستي (EYPP) د ادعا غوښتني لپاره، تاسو باید د EYPP غوښتنلیک برخه په بشپړه توګه د والدینو/ساتونکو/سرپرست د اعلامیي فورمه (PDF) ډکه کړئ کومه چې ستاسو د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي لخوا تاسو ته درکړل کېږي.

## د معلولیت لاسرسي تمویل

د معلولیت لاسرسي تمویل (DAF) د وړ معلولیت ماشومانو د ابتدايي کالونو د مرستي حقونو لاسرسی ملاتړ کوي او د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي هغه ترلاسه کولی شي که ماشومان د وړتیا معیارونه پوره کوي.

د DAF تمویل د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي سره مرسته کولی شي ترڅو په خپلو خدماتو کې مناسب بدلونونه رامنځته کړي او/یا د وړتیا لوړولو کې مرسته وکړي، که دا د ځانګړي ماشوم لپاره وي یا د ټولو هغو ماشومانو د ګټې لپاره چې په دې ځای کې ګډون کوي. د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي د DAF تمویل د کارکوونکو د روزني، منابعو، او مناسب بدلونونو لپاره هم کارولئ شي ترڅو د ځانګړي ماشوم اړتیاوې پوره کړي.

ماشومان د معلولیت لاسرسي تمویل (DAF) لپاره وړتیا لرلې شي، که دوی لاندې معیارونه پوره کوي:

- ماشوم د معلولیت لرونکي ژوند د ساتني مرسته ترلاسه کوي (DLA)

او

- ماشوم د ابتدايي کلونو د مرستي حقونو د لګښت تمویل د مرستي حقونو پیسي ترلاسه کوي

## څنګه به د ادعا غوښتنه وکړي

د معلولیت لاسرسي تمویل (DAF) د ادعا غوښتني لپاره، تاسو باید د DAF غوښتنلیک برخه په بشپړه توګه د والدینو/ساتونکو/سرپرست د اعلامیي فورمه (PDF) ډکه کړئ کومه چې ستاسو د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي لخوا تاسو ته درکړل کېږي.



## د ابتدايي کالونو د مرستې حقونه -
## پرله پسې پوښتل شوې پوښتنې:

### زما ماشوم چیرته د ګډون فرصت ترلاسه کولی شي؟:

ستاسو ماشوم دا دوې د ابتدايي کلونو زده کړې د ګډون فرصت د ابتدايي کلونو د خدمت چمتو کونکي له لارې ترلاسه کولی شي، لکه:

- د ښېښې ورځې پاملرنې د کوچنیو ماشومانو د لوبو ځای
- مخکني ښوونځي
- د کوچني ماشومانو یو ځای زده‌کړو ګروپ
- د ماشوم پاملرنه کوونکی
- د ماشومانو وړکتون ټولګي

دا د ابتدايي کلونو خدمت چمتو کوونکي باید یا (د ښوونې او روزنې ماشومانو خدماتو او مهارتونو د معیارونو اداري) Ofsted سره یا د ماشوم پاملرنه کوونکی اداري سره ثبت شوي وي. دوې د دې مسوولیت لري چې ستاسو د ماشوم د ځای لپاره مالي مرسته په مستقیم ډول له واروکشایر سیمې ځایې اداري څخه غوښتنه وکړي، او د دې ترسره کولو لپاره باید ثبت شوي وي.

### لګښتونه:

د ابتدايي کالونو د مرستې حقونه د دې لپاره دي چې په اونۍ کې 15 یا 30 ساعته وړیا، لوړ معیار لرونکي، او د شرایطو مطابق بدلیدونکی وړ ابتدايي زده کړې او پالنه وړاندې کړي. دې 15 یا 30 ساعتونه ته باید والدینو په وړیا توګه د لاسرسي توان ولري؛ یعني، د دې وړیا ساعتونو په اړه باید هیڅ لازمي لګښتونه د والدینو لپاره شتون ونلري.

د ابتدايي کالونو د مرستې حقونو د لګښت تمویل د خوړو، نورو مصرفي توکو، اضافي ساعتونو یا نورو اضافي خدماتو لګښتونو د پوښښلو هدف لپاره نه دي. چمتو کوونکي د مصرفي توکو، خوړو او سپک خوروکي، اضافي فعالیتونو او اضافي ساعتونو لپاره لګښتونه ترلاسه کولی شي، دا لګښتونه لازمي نه دي یا ځای ته د لاسرسي لپاره اړین نه دي.

د اضافي فیس لرونکو خدماتو لګښتونه باید د چمتو کوونکي په ویب‌سایټونو کې خپاره کېږي، یا که چیرې دوی ویب سایټ نه لري، د ځایي اداري د کورنی معلوماتو خدماتو په ویب‌سایټ کې به خپاره کېږي. دا باید روښانه، تازه او د والدینو لپاره په اسانۍ سره د ترلاسه کولو وړ وي، ترڅو والدینو ته د چمتو کوونکي په اړه د ښه پریکړه کولو فرصت ورکړي.

## ایا زه د ابتدايي کلونو د مرستې حقونه له یوه ځخه زیات د ابتدايي کلونو د خدمت چمتو کونکي ترلاسه کولی شم؟:

هو، تر ټولو لوړ حد پورې 2 سايټونو په یوه ورځ کې ترلاسه کولی شي.

## ایا زه د ماشوم ځای بدلولی شم؟:

مالي مرسته په عمومي توګه د ټول د ښوونځي د کال مودې لپاره هغه چمتو کونکي ته ورکول کیږي چې ماشوم د شمېرنې په ورځ هلته حاضر وي. که ستاسو ماشوم د شمېرنې په ورځ مخکې یا وروسته ځای بدل کړي، تاسو به له خپل د ابتدايي کلونو د خدمت چمتو کونکي سره غږیدو ته اړتیا لرئ ترڅو معلومه کړئ چې آیا هغوی به موافقه وکړي چې د بل چمتو کونکي سره د مالي مرستې غوښتنه شریکه کړي.





Warwickshire County Council

## اړیکې او نوره معلومات:


د واروکشایر د ابتدایي کلونو د خدمت چمتو کونکي په اړه د نورو معلوماتو لپاره یا ستاسو په سیمه کې د ابتدایي کلونو د خدمت چمتو کونکو موندلو کې د مرستې لپاره، مهرباني وکړئ د کورنۍ معلوماتو خدمات چمتو کونکو سره په دې شمېرې اړیکه ونیسئ: 0800 408 1558 یا fis@warwickshire.gov.uk یا www.warwickshire.gov.uk/fis

د کارکونکو والدینو د مرستې حقونو لپاره د وړتیا او آنلاین غوښتنلیک په اړه د پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ:
د HMRC’s د پېرېدونکی د اړیکو مرکز په دې شمېره اړیکه ونیسئ: 0300 123 4097 یا www.beststartinlife.gov.uk

د ملاتړ ترلاسه کوونکو وړتیا لرونکې کورنیو لپاره د لګښت تمویل د پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ د ابتدایي کلونو د مرستې حقونو ډلې سره په دې شمېره اړیکه ونیسئ: 01926 742218، help@warwickshire.gov.uk2 یا www.warwickshire.gov.uk/childcarecosts

د عمومي مالي مرستې د پوښتنو لپاره مهرباني وکړئ د ابتدایي کلونو د مرستې حقونو ډلې سره په دې شمېره اړیکه ونیسئ: 01926 742233، eyfunding@warwickshire.gov.uk یا www.warwickshire.gov.uk/childcarecosts

د ماشومانو د پاملرنې د لګښتونو په اړه د حکومت ټولو مرستو د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ دې ویب‌پاڼې ته لاړ شئ: **www.beststartinlife.gov.uk**



# ایا تاسو به د ماشومانو سره د کار کولو څخه خوند اخلئ؟

ګټوره مسلکي دندې

د شرایطو مطابق بدلیدونکی ساعتونه

له کور څخه کار ترسره کول

د ماشوم پاملرنه کوونکی کیدل

**که تاسو د ماشومانو سره د کار کولو سره مینه لرئ او داسي کور لرئ چې د ماشومانو د پاملرني لپاره مناسب وي، موږ غواړو له تاسو څخه په دې اړه واورو**



**د ماشوم پاملرنه کوونکی اوس په بشپړ ډول له هغو ځایونو څخه هم کار کولی شي چې د دوی خپل کور نه وي.**

د نور معلومات ترلاسه کولو لپاره دې ویبپاڼې ته لاړ شي: www.warwickshire.gov.uk/childcare/become-childminder

په شمول د وړاندې کیدونکي ملاتړ او څنګه به ګډون وکړې ترڅو د ابتدایي کلونو د خدمت چمتو کونکي مالي مرستې وړاندې کړي

Warwickshire County Council

د اکتوبر مېاشت 2025 کال تازه شوی

Warwickshire County Council

Early Years Education & Childcare
Funded Entitlements

CHILD FRIENDLY WARWICKSHIRE